

# د سولې سفر

## دیارلسم کیسه

دوهم چاپ

# کورته ستنیدل


**لیکونکي:**

مارى- جو لند
داکتر جوانا سناتا باربارا
داکتر گرایم مک کوین
کیون آرتر لند

دیزاین: یار محمد تره کی
انځورکونکۍ : یارمحمد تره کي

***ژباړونکي: ثریا سدید او محمد یوسف جبارخیل***



موسسه کمک به اطفال افغانستان
**Help the Afghan Children**
www.htac.org

**كيسې او د ښوونكي لارښود په لاندې ويب سايتونو كې شته دئ:**

**[www.journeyofpeace.ca](http://www.journeyofpeace.ca)**

**او**

**[www.htac.org](http://www.htac.org)**

ددې كيسى كتاب د موسسه كمک به اطفال افغانستان په واسطه تمويل او ژباړل شوى دى.

موسسه كمک به اطفال افغانستان

**Help the Afghan Children**

*'building a civil society through education'*

د سولې سفر

**دیارلسم کیسه**

**دوهم چاپ**

# کورته ستنیدل


لیکونکي:

ماري- جو لند

داکترجوانا سنتا باربارا

داکترگرایم مک کوین

کیون آرترلند



دیزاین: یار محمد تره کی

انځورکونکۍ : یارمحمد تره کي

اصلاح کونکي : کیون آرترلند او ماري – جو لند

د پروژی تنظیمونکي: ډاکترصدیق ویرا او ډاکتر ګرایم مک کوین

ژباړونکي : ثریا سدید او محمد یوسف جبارخیل - موسسه کمک به اطفال افغانستان

دسولې دڅېړنو مرکز ، دمک ماستر پوهنتون
هامیلتون ، آنتریو ، کاناډا

د 1388 کال پسرلی

**په کیسه کې ښکیل کسان :**

**جمیله** : یوه ۱۰ کلنه نجلی چې دافغانستان دیوې لرې پرتې سیمې په یو کلي کې ژوند کوي

**احمد** : دجمیلې ۵ کلن ورور

**عبدالله:** دجمیلې ۱۵ کلن ورور

**حلیمه** : دکوچنیانو مور

**میرزا:** دکوچنیانو پلار

**بي بي جان** : دکوچنیانو پلرنۍ انا

**غلام کا کا** : دکوچنیانو پلرنئ نیکه

**یونس** : دکوچنیانو کا کا او دبي بي جان او غلام کاکا کشر زوی ، چې په ۲۰ کلنۍ کې دماین دچاودېدو له امله ووژل شو.

**فاطمه** : دکوچنیانو ترور او د یونس کاکائخوانه کونډه

**علي** : دکوچنیانو تره چې په ښارکې هستوګنه کوي.

**عایشه** : دکوچنیانو ترور ، دعلي میرمن چې په ښارکې ژوند کوي .

## دکیسې لنډیز :

جمیله له خپلې کورنۍ سره دافغانستان په یوکلي کې ژوند کوي . دهغې کورنۍ دهېوادپه داخلي اخوډب کې پخوا هم ډېرې ستونزې لېدلې وي اوهغه یې لا هېرې شوې نه وې چې یوبل مصیبت وربانديې راغی . یونس کا کا چې په ځمکه کې یې کار کولو،یوماین پرې والوت اوهغه یې وواژه اوپلار یې ،میرزا، یوه پښه له لاسه ورکړه .

**دجمیلي دسوغات په کیسه** کې ښودل شوي دي چې هغه په خپله کورنۍ کې دیوې ښې مشاورې په توګه رول لوبوي ، دعبدالله تشویش اوسودا له دې امله ده چې جنګ دده دمکتب ددوران یوملګري ته کلک ګذاروركړی دئ اودهغه په شخصیت اوسلوک یې بدلون راوستی دی . دجمیلې دوېرونکوخوبونوراز اوبي بي جان چې غواړي په یوه ځانګړې طریقه دهغې درملنه وکړي په دې کیسه کې ځاي شویدي .

د **بی بې جان د هوښیارۍ په کېسه** کې ښودل شوي دي چې هغه په خپله  کورنۍ کې د یوې ښې مشاورې په توګه رول لوبوي ، د عبدالله تشویش او سودا له دې امله ده چې جنګ دده د مکتب ددوران د یوملګري روغتیا ته کلک روحی ګذار ورکړی او دهغه په شخصیت او سلوک کې یې بدلون راوستی دئ، د جمیلې د ویرونکو خوبونو راز او بی بی جان چې غواړی په یوه ځانګړی طریقه د هغې درملنه وکړي په دې کېسه کې ځای شوي دي .

**دکلچودپخولودکېسې** ډېره برخه دجمیلې ددردونو اورنځونو څخه حکایت کوي . هغه ماین دومره وېرولې چې په دې برخه کې دعبدالله له قهرېدلوسره سره ، له ماینوڅخه په پاکه شوې لاره هم دتللو په وخت کې لړزېږي .  بي بي جان دکلچوپه پخولو کې له جمیلې سره مرسته کوي اوجمیله له همدې وخت څخه په ګټې اخیستلو کوښښ کوي چې دخپل پلار دټپي کېدلوغم وزغمي . همدارنګه بي بي جان غواړي داسې یوآغېزمنه لارپیداکړي چې دهغې په وسیله فاطمه وهڅول شي  هغه غم چې ورته دیونس کا کا دمړینې له امله پیداشوی دئ په خپله ژبه ووایي .

**دمیرزا دغمجن زړه په کېسه** کې ،دجمیلې لپاره داډېره ستونزمنه ده چې وپوهیږي ، دمیرزاپه زړه کې څه رازپروت دئ چې هغه یې دومره غمجن کړیدئ . جمیله له دې کبله ډېره خپه ده چې پلاریې اوس هغسې خوښ نه ښکاري لکه له معیوب کېدلو څخه چې مخکې و . پلاریې داسې یو سړی وچې ډېرې کیسې یې زده وې .  دجمیلې ماشومانه پوښتنې میرزا ته ژړاورولي ، اودا ورپه یادوي چې هغه پخوا څومره خوشحاله سړی و . اوداهیله ، چې بېرته پخوانی حال پرې راشي ، دده په زړه کې راژوندۍ کوي

**د یونس دسندرې په کیسه کې،** احمد او جمیله د فاطمي غم او خپګان، چې هغه د یونس کاکا ځوانه کونډه وه، احساسوي او کوښښ کوي چې فاطمه بیرته خوشحاله کړي. بي بي جان هم په دې موضوع پوهیږي هغه خپل فامیل ته د مختلفو لارو وړاندیزکوي. هغه دکورنی له غړوڅخه غواړي چې یوځای کې راټول شي او هغه خوږې خاطری چې له یونس څخه یې لري د سندروپه ویلو ونمانځي

**د کور پرېښود لو په کېسه کې،** هغه وخت چې دشپې له خوا د دوی په کلی دمر دکیودویشتلو باران جوړ شو، کورنی له دې ډارونکي واقعیت سره مخ شوه چې باید خپل یو ګران شئ چې هغه ددوی کور و ترک کړي. د کورنی هرغړی له د غي ناحیي څخه کلک روحي ګذار خوري. خو په اخرکې دوي په دې پوهیږي چې باید له زړه ورتیا څخه کار واخلي او دهغو په وړاندې مقابله وکړي.

**د یونوي ملګري په کیسه کې** دمیرزا کورني غواړي د علی کورته ولاړه شی . دعلي کورته له رسیدلو څخه مخکې دوی دلارې په اوږدوکې دمیرزا دېو پخواني اشنا کورته ورګرځي . دمیرزا ددغه دوست په کور کې عبداله د هغو خلکو په برخه کې چې په نورو ژبو غږیږي اویادبل مذهب پیروان دي دقضاوت کولو یو ارزښتنا ک درس زده کوي.

**د پخلا ینې په کېسه کې** کله چې د جمیلې کورنی د ښار په لورې ځي، عبدالله ولیدل چې جمیلې له کوره څخه خپله پیشو هم له ځان سره راوړې ده . د سفر په اوږدوکې هغې له ځان سره پټه ساتلې وه، عبدالله په قهر سره پشی له جمیلې څخه اخلي او دسرک دغاړې بوټو ته یې ور غورزوي. جمیله په ورور باندې په قهر ده او داسی ځان ښیي چې ګواکې ورورنه لري، دا اوس بي بي جان پورې اړه لري چې د هغوي د پخلا کولو لپاره یوه لاره ومومي.

**دمیرزا دقهر په کیسه کې** میرزانشي کولی چې خپل اعصاب کنترول کړي . داکاردده دکوچنیانو ، جمیلې اواحمد ، دوېرې اوډارسبب ګرځي . دمیرزا عصبي کیدل دهغه په کوچنیانو ناوړه اغېزپرېږدي اودادې لامل ګرځي چې هغوی تل دنورو په وړاندې تنده اوتاوجنه رویه اختیارکړي . احمد چې پټ شوی ودخپل پلار اوبي بي جان خبرې آوري . دوی د هغې ناآرامی په هکله غږېدل چې میرزاته دده دپښي دغوڅېدو له کبله پیداشوېده . داحمد موندل په هغه ځای کې چې پټ شوی و دازمینه برابره کړه چې دپلار اوزوی ترمنځ یوځل بیاآړیکې سمې شي .

**د سولې او پخلاینې په کېسه کې** د بي بي جان عالمانه مهارتونه یوځل بیا ازمویل کیږي. هغوی په دې لټه کې دي چې د میرزا دورور کور، علی او مېرمن ئې چې په ښارکې هستوګنه لري،پیدا کړي. دوی مخکې له دې چې د علی کورو مومي، د کډوالو په یو کیمپ کې چې دا کیمپ په یو زاړه ښوونځی کې

جوړ شوی وو ځای په ځای شول. کله چې د میرزا کورنی خپل موقتي ژوند په دغه تنگ گوټ کې پیل کړ، عبدالله له یو کوچنی هلک سره په دې خبره چې هغه خپل بایسکل د نور ود اوسیدلو په ځای کې درولی و جنگ وکړ.

**دعبدالله او د لوړ قدې په کېسه کې** ، عبدالله له یوې اونۍ راهیسی له خپل فامیل سره د کاکا په کور کې اوسېږي . هغه ډیره سخته تبه لري . هغه مخکی له دې چې ویده شي ، د کوچنیوالي د دورې هغه هیلې او ارمانونه په یاد راولي ، چې غوښتل ئې ، کله چې غټ شی د عسکری خدمت ته به ځی هغه په خوب کې یوقوی هیکل لرونکی عسکر په داسی حال کې وینی چې نوموړی په مارکیټ کې دی اوله ده سره د جنگ د واقعیتونو په اړه خبرې کوي.

**د نوی ژوند په کېسه کې** جمیلي له خپل کاکا، علی او ترور، عایشی ، سره وپیژندل او دا پیژندنه د دې لا مل شوه چې هغه اوس له کور څخه دلرې والي غم نه احساسوي.
هغه اوس خوشحاله برېښي . خو بیا هم کله چې حلیمه دې ته وایي چې ډېر ژربه خدای پاک یو ورور یا خوروركړي . هغه د دې خبرې په اورېدلو ډېره خواښيني کېږي. دا ځکه چې د دوی ژوند ډېر تیت او پرک دئ اوثبات په کي نشته خو مورئې پوهوي او ورته وائي : " د ماشوم زیږول د لوی څښتن تعالی له نعمتونو څخه یو نعمت دئ چې خدای پاک ئې د دوی نصیب گرځوي.
**کورته د ستنېدلو کېسه** هغه وخت پیل کېږي چې د میرزا کورنی له یو کال څخه وروسته خپل کورته ورگرځي . کله چې د هغه کورنی د بیرته ستنېدلو لپاره ځان چمتوکوي ، هغه اختلاف چې لا تراوسه هم د حلیمي او فاطمې ترمنځ شته دی په روښانه ډول لېدل کېږي .

**ددرملنی عنصرونه :**

**تصویرونه او روغتیا بخښونکي نخښې:** راتلونکي ته هیله ، کورته ستنیدل او خوښي

**د سمو او سوله ایزو کړو وړو لپاره لارښوني :** ساتنه ، مرسته ، د کورنۍ یووالی مهربانی ،صنعت ، دینداری ، رهبري او مسولیت ، ابتکار او نوښت


**ستونزې:** له پیژندونکو څخه ویره

**درملنی لاری :**کارپسې کیدل او موخوته د رسیدلو لپاره هڅه ، د کار راپه زړه کول او نورو سره مرسته

# کورته ستنیدل



جمیله او احمد د علي کاکا په کوچني کورکې ناست وو، هغوی غوښتل چې ستورې وشماري .
احمد له خور څخه پوښتنه وکړه :"ولې زمونږ په کلي کې ستوری ډیر زیات دي او دلته نږدې هیڅ ستوری نشته ؟ ایاهغوې له ښار څخه اطراف ته تښتېدلي دي ؟"
جمیلې وخندل اووئې ویل :"نه احمد ، دښار چراغونه ډېر روښانه دي هغوی نه پریږدی چې د کوچنیو ستورو رڼا مونږ ته راورسیږی."
احمد سوچ وکړ او وئې ویل :" اوه ، اوس پوه شوم."



حليمې غږ کړ :"جميلې ! احمد ! مهرباني وکړئ دننه راشئ.



جمیله او احمد په منډه کورته راغلل هغو ولیدل چي نیکه ، انا ، مور ، پلار ، ورور ، کاکا او ترور ئې هم هلته ناست دي . هغوي ټول جدی ښکاریدل جمیلې په وارخطائې پوښتنه وکړه :″څه خبرده ؟ ″

ټولو په یو غږ وویل :″ یوښه زیری ! مونږ بیرته خپل کورته ځو !″

فاطمی ترور په خندا وویل :″ جمیلې ، احمد! مونږ کورته ځو! پس له دې تاسو کولی شی چې رومی بادنجان وکرئ او د سیند په غاړه له خپلې پیشو سره لوبې و کړئ !″

عبدالله د خپل ورور په سر لاس راکش کړ وئې ویل:



" عایشه ترور او علی کاکا رخصت اخلي ، هغوي له مونږ سره ځي او له مونږ سره مرسته کوي چې خپله مځکه بیاد کښت لپاره چمتو کړو !"

جمیلې پوښتنه وکړه :" لیکن موری ! ته اوس کولئ شې چې دا اوږد سفر تحمل کړی ؟ "

حلیمی په خندا وویل :" هو جمیلی ، زمونږ سفر به اسوده وي . سبا ته کالی ټولوو او په بله ورځ خوځیږو .

میرزا وویل :" مونږ ځنې غالی وپلورلې او کورته د بیرته ستنیدلو لپاره پوره پیسی لرو."

احمد په داسی حال کې چې حیران شوی و وویل :"مګر پلار جانه ! ایا په کلې کې ستاسو قالینی څوک اخلي ؟ تاسوښایسته قالینی اوبدلې ."

میرزا خپل زوی په غیږ کې ونیو ځواب ئې ورکړ:" احمد ! ته ډیر ښه فکر خاوند ئې هر څوک زما قالینه اخلي ، دا قالینی د سیمې له ډیرو وتلو قالینو څخه دي . اوس هغه شی چې زه ورته اړتیالرم هغه د قالینو د اوبدلو کارګاه ده ."

جمیلې پوښتنه وکړه :" عبدالله ! ته هم کورته ځې ، کاربه دې څنګه شی ؟"

عبدالله په ویاړ ځواب ورکړ:" نن مې پای ته ورسولو . زما کارئې ولیږدولو . پس له دې څخه زه په خپله سیمه ې له ماین څخه د خبرداری د پروګرام ښوونکی یم او داکار له دوه اونیو وروسته پیل کوم .

جمیلې خپل څلورو خواوته وکتل . ټولو خندل او خوشحاله وو. ډیر وخت ئې څوک په کور کې خوښ او په خندا نه و لیدلي . اوښکې ئې له سترګو را بهیدلی او په شونډو ئې مسکا خپره وه . د کور غړي یو بل سره په خبرو بوخت وو او ټول خوشحاله وو. په ټولو کې جمیله ډیره خوشحاله وه .



بي بې جان دخپلې لمسۍ لاس ونيو او ورته وئې ويل :" مونږ نه پوهيږو چې زمونږ کور لږ او که ټول په بشپړه توگه ويجاړ شوی دی . شايد چې زمونږ کلی د پخوا په شان نه وي زمونږ ډير خپلوان په جنگ کې وژل شوي دي مونږ بايد چمتو و اوسو چې دا ټول بدلونونه وزغمو ."

غلام کاکا د بي بي جان د خبرو په دوام وويل :" مونږ بايد د خپلو خپلوانو او گاونډيانو لپاره دعا وکړو . او همدارنگه بايد مونږ د يو ښه سفر لپاره او د سفر په پای کښې د کور د لرلو په خاطر دعا وکړو ." د کور ټولو غړو دعا وکړه هيلې او ويرې دواړو ئې زړونو کې ځای نيولئ و .





یوه ورځ وروسته حلیمه سهار له وخته
ویښه شوه د فاطمی د خوب ځای ته
ورغله وئې ویل :″ فاطمې ! پاڅیږه .
بقچۍ چمتو کړه . کالي ډیردي . ژر شه
! د وزګاری وخت دې تمام شوی دئ .
اوس ددې وخت دئ چې ببرته په
کارپیل وکړې .
فاطمې خپله د لیوره میرمن ولیدله چې
غوښتل ئې د خوړو یو دروند صندوق له
ځمکی څخه اوچت کړي ورته وئې ویل
:″زه مرسته درسره کوم . حلیمې !
پریږده زه ئې وړم ته باید خپل ځان ته
پاملرنه وکړې . ته حامله ئې . نو باید چې په یواځې ځان درانه شیان اوچت نه کړې .″
حلیمې په داسی حال کې چې د خوړو له صندوق سره له کوټې راوتله وویل :″ ددې اړتیا
نشته چې ته ماته و وائې چې څه وکړم او یا څه و نه کړم . ته ښائې ددې لپاره ماته ووائې
چې ځان وښې چې ته اوس یوه قابله ئې :″



جمیلې له بي بي جان څخه تپوس وکړ:" ولی زما مورتل په فاطمې ترور په قهر وي ؟" بي بي جان ځواب ورکړ :"  ددې لپاره چې فاطمه له فامیل سره ښه مرسته وکړي هغه باید په ډیر جدیت کاروکړې ، مور دې غواړي چې دا ډاډ تر لاسه کړي ."



جمیلې اه وویست وئې ویل :" کاشکی هغوی یو بل سره مینه ولري ."

عبدالله د حویلی له منځه څخه را غږ کړ:" مور ، مور ! ما د پلار جان ته د قالینې یوه کارگاه راونیوله ! او د کور د سامان د وړلو لپاره مې یو خر او یوه کراچی هم راونیوله . کراچی لږ ترمیم ته اړتیا لري . د لارې په اوږدو کې کولئ شئ چې ته او بي بي جان په کراچی کې کښینئ او په هغې کې استراحت وکړئ .



حليمې پوښتنه وکړه :" عبدالله ! تا او پلار دې دومره پيسې له کومه کړې چې دا ټول شيان مو پرې واخيستل ؟ ددې شيانو قيمت به هم خامخوا ډير لوړوي .


عبدالله په هیجان وویل :" ما یو سړی ولید چې نوی ښار ته راغلی و . هغه غوښتل چې زما بایسکل په پیسو واخلي . هغه ماته وویل چې دئ په کوم ځای کې خپل خر او کراچۍ پلورلی شي . مونږ دواړو یو بل سره خبرې وکړې او ما ورته وویل چې زمونږ کورنۍ غواړی بیرته خپل کلي ته ستنه شي له دې کبله یوې کراچې ته اړتیا لرو . هغه راته وویل چې که خر ورسره نه وي له کراچې څخه په یواځې توګه کار نه شي اخیستل کیدلی . په دې توګه ما خپل بایسکل او د پلار قالینه مې هغه ته ورکړه او له هغه څخه مې په بدل کې خراو کراچۍ واخیستله . هغه ډیر سخي سړی و . ما هغه دواړه څیزونه چې اړتیا مو ورته درلوده لاس ته راوړل .

پلار مې خپله یوه بله قالینه زما په معلم خرڅه کړه او د هغې په پیسو کارګاه واخیستله .

حلیمې خپل زوی په قراره ځان ته نږدې کړ وئې ویل :" عبدالله ! مننه تا دخپل بایسکل په بدلولو سره د خپلی کورنۍ اړتیا پوره کړه . تا د بدلولو چارې له خپل پلار څخه ډیرې ښه زده کړي دي ، ته ښه راتلونکې لري زویه زه په تا ویاړم . بي بي جان او جمیلې د دروازی له څنګ څخه میرزا لیده چې کارګاه په کراچۍ کې باروي .



بي بي جان په تعريف او ستاينه کې وويل :" څومره ښه خر او کراچۍ ، عبدالله آفرين ، زه باورلرم چې پلار دې ددې کارګاه په اخيستلو ډېر خوشحال دی . هر شی په کوښښ او زحمت ايستلو کې ډېر ښه پر مخ ځي . او زه هيله لرم چې زمونږ کورنی ښې طالع او بخت ولري . "



احمد چې د کوټې په منځ کې ويده وو راويښ شو او وئې ليدل چې فاطمه ترور او عايشه ترور کالې راټولوي . هغه هم له هر گوټ څخه کالى راټولول ، هغه ئې سمول او په جوال کې ئې اچول . خو هغه ته د چا پام نه و. هغه هر ځل چې څوک به دننه راتللو او يا به بهر ته وتلو دروازه پرانستله او پورى کوله . هغه خره ته هم اوبه ورکړې هر څوک په خپل کاربوخت وو او هيڅوک ده ته متوجه نه وو چې دى له نورو سره مرسته کوي . نو د حويلۍ په منځ کې ئې گونډې ووهلې او لاسونه ئې تخرگو لاندې ونيول او له قهر او غضب څخه ډک کښيناست .

بي بي جان وويل :" احمد ! زما نازنینه زویه ، څه پېښ شویدی ؟"

احمد وویل :" ما چې هر څومره کاروکړ او نورو سره مې مرسته وکړه . هیچا ونه لیدم . ما ډیر کار وکړ. "



بي بي جان وویل :" احمد جان وګوره ! ګوره چې ټول په څومره جدیت کارکوي دا څومره ښه کار دی چې ته هم له نورو سره مرسته کوي . ډیره زیاته مننه .

احمد چې مسکی و مورته ئې وروکتل وئې ویل :" مونږ غواړو چې بیرته خپل کورته ستانه شو . هلته واړه ستوری کیدلی شي ښه وځلیږی."

**********